# دعا

## څنګه د خدای سره خبرې وکړو

### د پیل ټکی

دې وروستني پينځو مرحلو په هکله فکر وکړئ . کوم يو يې ستاسو دپاره د ټولو نه زياته کټه کړې ده؟
ايا کولای شی يو مثال راوړئ چې څنګه دا مرحلې ستاسو دپاره ګټورې وې؟

### بحث او خبرې

دعا ستاسو دپاره څه معنی لري؟

له هغه وخته چي تاسو مسيحي شوي يئ، ستاسو تجربې په دعا کې، څه بدلون کړی دی؟

ايا ستاسو په نظر دعا کول اسانه دی؟

کوم شيان په دعا کې ستاسو دپاره سخت او ستونزمن دي؟

### اصلي مفکوره

عيسی مسيح تل دعا کوله. شاګردانو يي ليدل چي هغه څنګه د خلکو څخه ځان لرې کاوه او په شخصي دعا بوختېده. هغوی همدارنګه ليدل چي عيسی څنګه په جمع کې دعا کوله او بلنه يي ورکوله چي د اسماني پلار سره د هغه د خبرو اترو شاهد وي.
شاګردانو په ژوند کې د مسيح د دعا اغيز ليدلی ؤ، نو ځکه يې يوه ورځ له هغه وغوښتل چي دعاکول هغوی ته ورزده کړي او په دې ترتيب پوه شول چي کولای شي خپلې ورتيا ته په دعا کې وده ورکړي (لوقا ۱۱: ۱).

عيسی ځواب ورکړ او هغوی ته يې د دعا کولو نمونه ورکړه چي د هغه څخه پيروي وکړي. مونږ دغه دعا د "رباني دعا "په توګه پيژنو. که څه هم دا دعا لنډه ده. خو زمونږ د ژوند د ټولو ورځو دپاره د خدای له قوته ډکه ده(لوقا ۱۱ او متی ۶).

په دې غوښتنه د شاګردانو سره يو ځای شئ. يوه شيبه وخت واخلئ او دعيسی نه وغواړئ چي دعاکول تاسو ته درزده کړي.

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

متی ۶: ۹-۱۳ په لوړ اواز ولولئ.
کومو جملو ستاسو پام ځان ته راواړوه؟ ولې؟

د يوې نمونې په ورکولو دا دعا زمونږ سره مرسته کوي چي دعا کول زده کړو. راځئ چي د هغې د مختلفو برخو په ځېړولو، وګورو څنګه کولای شو، دعا وکړو:

**ای زمونږ پلاره چي په اسمان کې يې، ستا نوم دې مقدس وي.**

- د دعا په پيل کې، يوه شيبه بايد وقفه وکړو او په ياد راوړو، زمونږ پلار چي په اسمان کې دی، څوک دی. دا په دې معنی چي هغه نيک، ځواکمن او توانا دی. يو وخت هم د هغه عبادت ته ځانګړې کړئ.

**ستا پاچاهي دې راشي، ستا اراده لکه څنګه چي په اسمان کې سرته رسيږي، په ځمکه کې دې هم سرته ورسيږي.**

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- مخکې له دې چې خپلې اړتیاوې او غوښتنې خدای حضور ته وړاندې کړئ. خپلې غوښتنې او ارادې مو د خدای د نېکې او کاملې ارادې سره په ورته لوري کې وکړئ. د هغه د پاچاهۍ راتلل وغواړئ او د هغه نه وغواړئ چې د تاوتریخوالي نه دې ډکه نړۍ ته سوله او سلامتي راوړي.

**زمونږه ورځنۍ ډوډۍ نن مونږ ته راکړه.**

- خپلې اړتیاوې اسماني پلار ته وړاندې کړئ. دا اړتیاوې کولای شي جسماني، عاطفي او یا روحاني وي. هغه زمونږ ټولو اړتیاو ته په درنه سترګه ګوري.

## کلمه وپلټئ
## (دوهمه برخه)

**زمونږ قرضونه وبخښه، لکه څنګه چې مونږ هم خپل قرضداران بخښلي دي.**

- کومه ګناه چې مو د خدای په وړاندې کړې ده، اعتراف پرې وکړئ او د هغه نه بخښنه وغواړئ. چیرته چې نورو تاسو ته زیان رسولی وي، د هغوی د بخښلو پروسې ته لاړ شئ.

**مونږ مه ازمایه، خو د بدو کارونو نه مو وساته.**

- په دې توره نړۍ کې له ښتنته ساتنه وغواړئ، د ژوند په هره ځانګړې برخه کې چې تاسو یې اندېښمن کړي یي، هغه د ښتنن حضورته وړاندې کړئ، په ځانګړې توګه په هغه برخه کې چې احساس کوئ د حملې لاندې راغلي یي.

**ځکه پاچاهي، قدرت او جلال، د تل دپاره ستاسو دی.**

- په اسماني پلار باندې تمرکز کول، عبادت او خپله دعا د هماغه ځای نه چې مو پیل کړې وه، پای ته ورسوئ.

## بحث او خبرې

دغه نمونه څه توپیر لري د هغه دعا کولوسره چې اوس یې کوئ؟ کومه برخه تاسو ته اسانه ده او ستاسو د اوسني ژوند دعا منعکس کوي؟
کومه برخه په خپله اوسنۍ دعا کې د معمول په توګه نه کاروئ؟

ولې د دې دعا د ټولو برخو کارول زمونږ د ژوند د دعا دپاره اهمیت لري؟ څه به پېښ شي که مونږ د معمول په توګه د دې دعا یوه یا دوې برخې په خپله دعا کې وکاروو؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

همدا اوس په ګډه دعا وکړئ او د دې رباني دعا ټولې برخې وکاروئ.

- اسماني پلار ته عبادت وکړئ.
- د خدای د ارادې سره سم دعا وکړئ
- خپلې اړتیاوې وغواړئ
- وبخښئ او د خدای بخښنه ومنئ
- د خدای نه ساتنه وغواړئ
- دعا وکړئ

یو د بل سره مرسته وکړئ چې د معمول په توګه هغه برخې چې په دعا کې نه کاروئ، هغه ته مناسبې جملې پیدا کړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- رباني دعا حفظ کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

- پخپله ورځني دعا کې، په پشپړه توګه د رباني دعا نمونه وکاروئ.
- خپل د دعا ژوند د ودې څرنګوالي ته پاملرنه وکړئ او څه چې مو زده کړي دي، د یو بل سره یې شریک کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved